# د پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین ( تمغۀ امتیاز) ژوند او ادبي خدمات

# The Life and Literary Services of Prof. Dr. Salma Shaheen

Farkhanda Liaqat [1]

Prof. Dr. Salma Shaheen is a prominent Pashto intellectual, writer and poet. She has tremendous contributions in the field of Pashto Language and Literature. As Director Pashto Academy, her Administrative qualities cannot be ignored. Dr. Salma Sheen has authored books on the every aspect of Pashto Language and Literature. It will not be wrong to say that she has spare all her life for the services of Pashto Language and Literature. In this paper her life and services will be discussed at length.

که لوئي کړم راسره ښائي
یوه ښائسته یم بل د لویه کوره یمه

ما دپاره دا ډېره د خوشحالۍ او ویاړ خبره ده چې د یو ډېرې قدرمنې او په پښتو ادب مئینې پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین باندې د مقالې او د هغوي ادبي کار د لوستونکو مخکښې کړم ـ هسې خو په پښتنو پسې مشهوره ده چې دوي په ژوند د یو بل قدر نۀ کوي خو چې مړ شي نو بیا ورته د هغۀ قدر ورشي او دا شعر د پښتنو ددې رو یې ګواه دے ـ

چې ژوندے ووم تاسو ویشتے ووم په کاڼو
اوس مې څۀ له ښکلوئ د قبر کاڼي

خو ددې روایت اودستور بدلولو دپاره د پښتو اکېډېمي پېښور د نن نه څو میاشتې اګاهو دا قدم پورته کړو چې هغه شخصیات چا چې د پښتو ادب او پښتون قوم دپاره د خپل ژوند یوه لویه حصه

1 Associate Professor Pashto Academy UOP

وقف کړې ده او پښتانهٔ ئې د دنیا سره سیال کړي دي ـ د هغوي په ژوند کښې د دوي خدمات اوستائیلي شي ـ او ددې هستیانو په ژوند دوي ته هغه درناوے او عزت ورکړې شي د کوم چې دوي حقدار دي ـ دغه شان دا سلسله شروع شوه او د همېش خلیل صیب او نواز طائر صیب په درناوي کښې سیمینار منعقد شو او مقالې پرې اووئیلې شوې ـ

د سلمٰی شاهین نوم په پښتو ادبي دنیا کښې د څهٔ تعارف محتاجه نهٔ دے ـ دا یوه ښهٔ شاعره یوه محققه ، یوه ناول نګاره ، افسانه نګاره ، فولکلورسټ او ډېره زبردسته ایډمنسټرېټر پاتې شوې ده ـ په پښتو ژبې ادب او پښتنو د سلمٰی شاهین دومره احسانات دي چې تر څو پښتو وي نو ددې نوم به د ادب په تاریخ کښې تل ژوندے وي ـ

د سلمٰی شاهین د ژوند ګڼ اړخونه دي ـ چې په دې مقاله کښې ما ستاسو مخکښې راوړي دي ـ لکه د سلمٰی شاهین ژوند ، سلمٰی شاهین د پښتو اکېډیمۍ د ډائرېکټرې په حېث ، سلمٰی شاهین د یوې شاعرې په حېث ، سلمٰی شاهین د یوې افسانه نګارې او ناول نګارې په حېث ، سلمٰی شاهین د یو محققې په حېث ، سلمٰی شاهین د یوې فولکلوریسټ په حېث او په تېره تېره د پښتنو مېرمنو د یو لاربنود په حېث یادولے شي ـ

سلمٰی شاهین د خپل نوم پشان لکه د شاهین په بره د پرواز مېرمنه د مردان په بغداده کلي کښې د امیر محمد خان کره په کال ۱۹۵٤ء کښې د اپرېل د میاشتې په شپاړسمه ورځ پیدا شوې ده۱ ـ ددې کورنۍ د مردان یوه درنه کورنۍ ده او د پښتو او پښتنو سره مینه ددې په خټه کښې اغږل شوې ده ـ

سلمٰی شاهین خپل ابتدائي تعلیم د خپل کلي بغدادې په سکول کښې حاصل کړے دے ـ لسم جماعت ئې په ۱۹۷۱ء کښې د ګورنمنټ ګرلز هائي سکول مردان نه پاس کړو د غه شان د وړاندې تعلیم دپاره په مردان وومن کالج کښې ئې داخله واخسته او دلته نه ئې په ۱۹۷۶ء کښې دولسم او ۱۹۷۶ء کښې څوارلسم جماعت په ښو نمبرو پاس کړو ـ د پښتو ژبې او ادب سره د مینې په وجه دې په پښتو څانګه پېښور پوهنتون کښې داخله واخسته او په ۱۹۷۸ء کښې ئې د ایم اے پښتو ډګري ترلاسه کړه۲ ـ او هم دلته نه ئې په پښتو اکېډیمۍ کښې د ریسرچ افېسر په عهده د خپل ملازمت ابتداء اوکړه ـ دغه وخت ددې محترمې کار وو ـ د خپل ملازمت په ابتدائي ورځو کښې چې کومه

ذمه واري ددې په غاړه شوه هغه د پښتو ټپو په تحقيقي بڼه راغونډول او هم د هغو د اشاعت بندوبست کول وو ـ که څۀ هم دا ډېر مشکل او صبر ازما کار وۀ خو سلمیٰ شاهين دې ګران کار ته ملا اوتړله او تقريباً شپږ دېرش زره پښتو ټپې ئې راغونډې کړې چې د روهي سندرې اول جلد او دوم جلد په نوم چاپ شوې دي دا د هغې د خوارۍ نتيجه ده چې نن څوک د پښتو ټپې ذکر کوي نو د سلمیٰ شاهين نوم ورسره خامخا يادېږي ـ په دې حقله نواز طائر صېب وائي :-

> " پښتو اکېډيمي تر دې وخته شپږ دېرش زره ټپې جمع کړي دي چې زما په خيال دا د روهي سندرو يوه مهمه برخه ده او تر دې دمه هېڅ يو فرد يا ادارې په دومره لوے شمېر کښې لنډۍ ، مصرۍ، ټپې نۀ دي جمع کړي ـ ادارې ددې د ترتيب او تدوين کار د پښتو اکېډيمۍ يوې محنتي کارکونکې سلمیٰ شاهين ته اوسپارلو څوک چې په خپله يوه ښۀ پښتنه ليکواله او شاعره ده او بالفعل د ټپې هغې نسواني جذباتو محرکاتو چې زياتې ټپې هم د دوي له مخه رازېږولي دي ـ په روح او تاثير پوهه ده او ځکه سلمیٰ شاهين د روهي سندرې انتساب پښتنو مېرمنو په نوم کړے دے " د خپل احساس د هاغه درد په نوم چې د پښتنو مېرمنو د سوي لوي ژوند په هغه سندره ژوندے دے کومه چې د رېو اوښکو د ملغلرو نه سازه شوې د ټپې په افاقي اهنګ غږېږي "۔۳

سلمیٰ شاهين د خپل دې کار نه ثابته کړه ـ چې پښتنې مېرمنې دې ځان په يو ځاے کمزورې نۀ ګڼي ـ او په يو مېدان کښې هم دوي د سړو نه کمې نۀ دي ـ په ۱۹۸۲ء کښې ئې د شاعرۍ وړومبۍ مجموعه نوے سحر چاپ شوه ـ ددې سره سلمیٰ شاهين په پښتنو شاعرانو کښې ځانله يو جدا مقام پيدا کړو او د هغې د شاعرۍ ابتداء چې د نوے سحر نه اوشوه ـ زۀ هم هغسې وړه وے او بيا د "راوبل" او د" انتخاب شاهين" په شکل کښې د پښتو ادب د اسمان د شاهين پرواز ثابت شو ـ

د خپل ملازمت په دوران کښې هغې خپل ځان د ښۀ محققې ، شاعرې ، نثرنګارې ، ناول نګارې په طور د دنيا وړاندې راوستلو ـ په مختلفو سيمينارونو کښې ئې خپلې مقالې پېش کړې ـ

### د ډائرېکټرې په حېث

پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین په ۲۰۰۲ء کښې پي اېچ ډي اوکړه ـ او په ۲۰۰٤ء کښې د پښتو اکېډیمۍ د ډائرېکټرۍ په حېثیت خپله ذمه واري ترلاسه کړه ـ دا ذمه واري په وړومبي ځل یو زنانه ته اوسپارلې شوه ـ پروفېسر سلمیٰ شاهین ډېر په ذهانت او جرأت سره دا ذمه واري په خپلو نازکو اوږو واغسته او لکه د زمري ئې خپل کار اوکړو ـ ددې مثال به د پښتنو په تاریخ کښې ډېر کم په نظر راشي ځکه چې هر څۀ وي خو د پښتنو په معاشره کښې د یوې ښځې کار کول او هغه هم د سړو سره څنګ په څنګ او بیا ځان له یو نوم پیدا کول دا د اوسپنې نینې چیچل دي او دا نینې سلمیٰ شاهین لکه د پستو پوُلو ډېر په صبر استقامت او هوښیارتیا اوچیچلې چې د داد او تحسین مستحق ده ـ

پښتو د اوسپنې نینې دي
زما لالیه فولادي جوړ که غاښونه

د پښتو اکېډیمۍ د ډائرېکټرۍ په حېث چې سلمیٰ شاهین کوم اهم کارونه کړي دي دلته مختصراً د هغې ذکر کول ضروري ګڼم ـ

1. د ټولو نه اول خو دا پښتون کلچرل میوزیم او په کوم هال کښې چې تاسو نن ناست یې داد هم د سلمیٰ شاهین د منډو تړړو یو ثبوت دے چې هغې په یوازې ځان ددې منظوري د اېچ اي سي نه اوکړه او ددې جوړول او بیا دې له داد ټول لوښي لرګي پیدا کول تر دې چې دلته کښې نال شوي یو یو بوټے د دوي ددغه محنت ګواهي ورکوي ـ
2. په اکېډیمي کښې د ایم فل او پي اېچ ډي کلاسونه شروع کول د سلمیٰ شاهین د هلو ځلو نتیجه ده ـ
3. د پښتو رساله اېچ اي سي نه هم د سلمیٰ شاهین په محنت Recognize شوې ده ـ چې دغه وخت د پښتوایکې یوه HEC Recognize رساله وه ـ
4. د دې د ډائرېکټرۍ په وخت کښې د یو ایس نه یو پراجېکټ (دېرش لاکه) منظور شو چې په هغې کښې درې سوه یو شپېتۀ مخطوطې محفوظې شوې او دغه شان د لائبرېرۍ څلوېښت زره پورې کتابونه کمپیوټرائز شو ـ

5. دغه شان د لوک ورثه نه د پښتون کلچر او ثقافت نمائنده څلوېښت پراجېکټه منظورول ددې پښتنې مېرمنې کارنامه ده چې همېشه دپاره به يادوے شي ـ

6. د ټولو نه لوے کار چې دې په يوائې ځان کړے دے او کېدے شي چې که دغه وخت د دوي په ځائے د اکېډيمۍ مشري د بل چا په لاس کښې وے نو دا نن چې تاسو کومې پښتو اکېډيمۍ کښې ناست يئ ددې دا ځانګړے حېثيت به باقي نۀ وو پاتې شوے ـ هغه د اکېډيمۍ او پښتو څانګې په يو بل کښې ضم کول وو ـ چې د يونيورسټۍ د واکدارانو له خوا دا فېصله په ۲۰۰۹ء کښې مخې ته راغله نو دا سلمٰی شاهين وه چې د پښتو اکېډيمۍ د بقاء دپاره ئې متې اونغښتې او د ډېر زياتر مخالفت باوجود ئې حوصله اونۀ بائيلله او تر کورټ کچهرو په خپل ذاتي خرچو دې دا جنګ اوکړو ـ او اخر ئې د پښتو اکېډيمي دا ځانګړے حېثيت واپس په ۲۰۱۱ء کښې برقرار کړو ـ په دې حقله په خپله سلمٰی شاهين په خپل کتاب انتخاب شاهين کښې په صفحه نمبر ۷ باندې يو نظم ليکلے دے " زما محبوبه اے جانانه دومره مه وېرېږه " دې نظم سره ئې لاندې نوټ ورکړے دے وائي " ۷ اګست ۲۰۰۹ء چې پښتو اکېډيمي ختمه شوه او ما پرې سټېنډ واخستو نو ملګرو راسره تعلقات پرېښودلو ـ دا نظم د يو ملګري په دغه رويه ليکلے شوے دے ـ دغه وخت حساس ذهن د خپل تخليق لاره هم پرانستې ساتلې وه او دې د هغه وخت د کړکيچنو حالاتو د خپلو ملګرو د بې حسۍ او بدو رويو عکاسي په دې نظم کښې کړې ده ـ دلته ددې نظم يو ټوټه رانقل کوم ـ

زما محبوبه اے جانانه دومره مه وېرېږه
راځه زمرے شه کيدړانو له لار مه ورکوه
راځه په ما پسې راځه نورې اسرې ورکې که
راځه راځه چې سره يو شو دا نظام بدل کړو
پکښې غريب تباه کوي دغه جهان بدل کړو
تۀ خو د فکر ښۀ لوبغاړے ئې وېرېږې ولې

زما محبوبه اے جانانه دومره مه ویرېږه٤

په دې حقله هارون الرشید خټک په خپل کتاب " د جدید دور پښتنې شاعرانې د ۱۹۵۰ء نه تر دې دمه کښې وائي :-

" د سلمیٰ شاهین د ډائرېکټرۍ دور ددې ادارې یو زرین دور ګڼلے شي ـ هم ددې په مشرۍ کښې د پښتو ډېر اهم تحقیقي او عملي کتابونه چاپ شول ـ پښتو اکېډیمي نړیوال شهرت اوموندلو ـ هر کله چې په ۲۰۰۹ء کښې دا اداره په پښتو څانګه کښې ضم کړے شوه نو شاهین بي بي د ادارې د ځانګړي حېثیت د دوباره بحالۍ دپاره ستر جدوجهد اوکړو او دغه جدوجهد ئې رنګ راوړو او پښتو اکېډیمي په اپرېل ۲۰۱۱ء کښې بیا بحال شوه ـ٥ "

پروفېسر سلمیٰ شاهین چې تر څو په اکېډیمۍ کښې موجوده وه دوي همېشه د پښتنو پېغلو حوصله افزائي کړې ده او دوي ته ئې په تعلیمي مېدان کښې د هر قسمه اسانو پېدا کولو کوښښ کړے دے ـ بلکې دوي ته پېښ مختلف مشکلات ئې په چُپه خولهٔ حل کړي دي ـ

که د نن نه دېرش څلوېښت کاله مخکښې مونږ نظر واچوو نو دغه وخت د یوې پښتنې زنانه مخکښې ته راتلل او بیا د سړو سره څنګ په څنګ کار کول که ناممکنه نه وه خو مشکله ضرور وه ولې سلمیٰ شاهین د خپل همت او په ځان د اعتماد په وجه دا ګران کار ځان ته اسان کړو او هغه کارونه چې خلقو په صدو کښې کړي دي هغې د خپلې مشرۍ په لسو کالو کښې سرته اورسول چې مونږه ټولې زنانه پرې فخر کوو ـ او زمونږه دپاره هغه یو رول ماډل ده ـ که زهٔ دلته د دوي د ټولو منډو ترړو ذکر شروع کړم نو مقاله رانه اوږدېږي ځکه دلته به زهٔ د هغوي په تخلیقي ، تحقیقي او تنقیدي خدماتو رڼا واچوم ـ

## سلمی شاهین د شاعرۍ په حیث

سلمٰی شاهین چې په اتم جماعت کښې شاعرې شروع کړې وه ددې د شاعرۍ ورومبې مجموعه "نوے سحر" چې په کال ۱۹۸۲ء کښې چاپ شوې ده ـ ددې کتاب په حقله نواز طائر صیب لیکي :-

" دا مختصر شان کتاب د یوې پښتنې مېرمن د جذباتو ترجمان دے ـ د یو داسې پښتنې چې د ادب او شعر سره تړون کښې ئې تربیت موندلے دے ـ د هغې دا ورومبے کوښښ بائد چې اخري کوښښ نهٔ وي ـ ځکه چې د عمر تېرېدو سره سره د فکر تسخیري تجربه سېوا کېږي او اظهار ئې کوي ـ نو پکار ده چې د شاهین دا سحر د یو بل سحر دپاره ورمبۍ پوړۍ شي او دغه شان ډېر سحرونه ددې په شا راښکاره شي ـ٦ "

د نوے سحر په حقله "پاکستانی خواتین اور پشتو ادب" کښې لیکي :-

*"ان کا شعری مجموعہ "نوے سحر" منظر عام پر آیا تو قاری چوک اُٹھے۔ کہ واقعی نئ سحر کی شاعرہ نے نئے تجربات نئ صداقتیں، نیا اسلوب اور نئ امیجز لے کر شعر و سخن کی دنیا میں وارد ہوئیں ان کے ہاں صداقت اور خلوص نمایاں خوبیاں ہیں۔۷"*

## روهي سندرې اول جلد ۱۹۸٤ء

د پښتو اکېډیمۍ له اړخه دا پراجېکټ چې سلمٰی شاهین ته حواله شو ـ هغه د پښتو ټپو راټولول جمع کول او بیا د حروف تهجي په ترتیب سره لیکل یو ګران کار وو ولې دا کار هغې په ډېر محنت او کړاؤ سرته اورسولو چې دغه ټپې د هغې د پېژندګلو یوه لویه ذریعه اوګرځېدله او چرته چې د پښتو ټپه یادېږي نود سلمٰی شاهین نوم به ورسره ضرور یادېږي ـ روهي سندرې چې د پښتو تقریباً ۳٦۰۰۰ زره ټپې په کښې راجمع شوي دي دا په دوه جلدو کښې چاپ دي ـ دوېم جلد ئې په ۱۹۹٤ء کښې چاپ دے ـ

په دې حقله پروفېسر محمد نواز طائر صیب لیکي :

" زۀ پېغلې سلمیٰ شاهين ته د هغې په محنت ، زيار او کاوش مبارکي وړکوم او هيله لرم چې هغه به خپله دا تحقيقي جذبه هم دغسې ژوندۍ اوساتي او د کار او زيار هغه قوت به پيدا کوي چې د پښتو اکېډيمۍ د يو محنتي کارکن سره جوړېږي او ښائي ـ۸ "

**زۀ هم هغسې وړه وې ۱۹۹٦ء**

دا د سلمیٰ شاهين دوېمه شعري مجموعه ده ـ

په ساعت کښې مې ژړلے په ساعت کښې مې خندلے
چې په ځان نۀ پوهېدلے زۀ هم هغسې وړه وے
نۀ مې ويره وے نۀ ترهه بې پرسانه ګرځېدلے
په ټالونو ځنګېدلے زۀ هم هغسې وړه وے۹

د خپلې شاعرۍ په حقله سلمیٰ شاهين وائي :

" زما په خيال شعر يو فطري عمل دے چې د بنده د داخل سره تعلق لري که دنيا ورته په هره سترګه ګوري خو شاعر ورته په خپله سترګه ګوري۱۰ "

سلمیٰ وائي ماضي په تېر وخت ښۀ دي او که بد وړوکوالے که د محرومو ډک وي او که د خوشحالو د بنده په شخصيت او کردار او د هغۀ په حال او مستقبل ژور نقشونه پرېږدي ـ زۀ هم کله کله د خپل دې نظم په آئينه کښې د خپل وړوکوالي ننداره کوم چې د ډېرو خلقو او د ټولو خلقو د جذباتو عکاسي کوي :

ددې شاعرۍ په حقله ډاکټر راج ولي شاه وائي :

"محترمه سلمیٰ شاهين زما په خيال په دې وجه هم د ستائنې او داد مستحقه ده چې هغه غالباً زمونږ د عصر وړومبۍ پښتنه شاعره ده چې د داخليت د اظهار جرأت ئې کړے دے ـ د هغې په نظمونو کښې اکثر داسې احساس په نظر

راځي چې عام طور ئې ځرګندول ډېر ګران وي ـ ولې فنکار سره چې کومه وسله ده د هغې د کامیاب استعمال په چل سلمٰی پوهېږي۱۱ "

### راوېل

درېمه مجموعه ئې راوېل چاپ کال ۲۰۰۳ء دے ـ په دې مجموعه کښې سلمٰی شاهین د خپلو مخکښې دوه کتابونو نوے سحر او زۀ هم هغسې وره وې نه څۀ نظمونه او غزلونه هم شامل کړي دي او نوې اضافه ئې هم په کښې کړې ده ـ

چې قسم ئې په پرونو په شملو شي
په ما ګران دي پښتانۀ پښتانۀ خلق
چې ئې سترګې پښتنه مینه خمار کړي
ځومره ښکلي دلبران دي پښتانۀ پښتانۀ خلق۱۲

### انتخاب شاهین

دا د سلمٰی شاهین څلورمه شعري مجموعه ده چې په ۲۰۱۱ء کښې چاپ شوې ده ـ

## د نثر نګارۍ په حیث

د سلمٰی شاهین نثر هم لکه نظم ډېر خوږ او روان دے او معنی او مفهوم لحاظ په کښې په ډېر ښۀ طریقه رایو ځاے شوے دے ۱۳-

### که رڼا شوه ( ناول ) ۱۹۹۸ء

سلمٰی شاهین زمونږ د هغه پسمانده روایت پسنده معاشرې عکاسي کړې ده چې همېشه د پښتنو ښځو دپاره د تکلیف او مصیبت باعث شي او دوي هم ددغه پښتو او پښتنولي په دار قرباني شي ـ خو رڼا یو علامتي کردار دے داسې ئې CREAT کړے دے چې پښتنو زنانو ته د انساني حقوقو په حواله هغه لارې اوښائي کومې چې ددې رهنمائي کوے شي او هغه تیري چې ددغې ناول هیروئن عائشې ته

مخې ته راغلي دي خو سلمیٰ شاهین دا نۀ غواړي چې د نوي کول پېغلې دې هم ددغه مصیبتونو ښکار شي ـ دلته دا یو مثبت پېغام ورکوي ـ

## کاڼي او ازغي ۲۰۰۱ء

په دې کښې سلمیٰ شاهین لیکلې نورلس افسانې دي چې نومونه ئې دادي ـ (۱) ګل رخ (۲) مور(۳) کاڼي او ازغي (٤) ګلونه (٥) د سرو پنجره (٦) ډمه (۷) ابادي (۸) سپي (۹) زنځیر (۱۰) پشکالي (۱۱) ائیډئیل (۱۲) تنور (۱۳) سوداګر (۱٤) سپي (۱٥) شرمخ (۱٦) شاهکار (۱۷) پوټریټ (۱۸) ایرې (۱۹) کتابونه ـ

- پښتو ټپه معاشرتي او ثقافتي اثر ، ۱۹۸٥ء
- دل اور آنکهیں چین میں ( سفرنامه )
- د پښتو جدید نظم ( تحقیق ) ۲۰۰۱ء
- پشاور شهر اور Tradition لوک ورثه اسلام آباد پراجیکٹ ـ
- پشتونوں کے موسیقی کے آلات
- ۳۱ پورې تحقیقي مقالې ئې چاپ دي ـ
- ۳۰۰ پورې کتابونو ریویو ئې کړې ده ـ

سلمیٰ شاهین یواځې دا نه چې د پښتو اکېډیمي او کتابونو سره تړلې شوې ده بلکې هغې په سرکاري او غیر سرکاري تنظیمونو کښې هم برخه اخستې ده ـ دا د بې شماره تنظیمونو ممبره پاتې شوې ده ـ چې په دې کښې

1. وائس پریزیډنټ پاکستان وومن رائټرز فورم پشاور
2. ممبر هیومن رائټ کمیشن پشاور
3. لا ئف ممبر شپ پښتون کلچرل ایسوسي ایشن اسلام آباد
4. ممبر پاکستان یوتھ ارګنائزیشن مردان

5. ممبر بورډ آف ګورنر عورت فاؤنډيشن

6. چې په کښې د ذکر وړ پاکستان اکېډيمي او ليټرز بورډ ممبره ٦ کاله

7. د Pemra ممبره هم پاتې شوې ده ۔

سلمٰی شاهين يوائې دا نه چې کتاب او کېډيمي سره تړلے وے ۔ يو فعال کردار په سرکاري او غېر سرکاري تنظيمونو کښې برخه اخستفل هم دي ۔ بې شماره تنظيمونو او تعليمي بورډونو ممبره پاتې شوې ده ۔

Distinctions

- Tamgha-e-Imtiaz, Government of Pakistan, 2008
- Abasin Arts Council Award, 1982 – 83
- Pashtoon Cultural Association Award from Islamabad, 1994
- Pakistan Academy of Letters, Islamabad, 1996 (Hijra Award)
- Chacha Karim Bakhsh Award, 1996
- Fakhr-e-Mardan Award, 1997
- Chacha Karim Bakhsh Award, from Mingora (Swat), 1998
- Abasin Arts Council Award, 1998
- Khyber Award District Peshawar, 2004

څنګه چې ما مخکښې اووئيل چې د سلمٰی شاهين د پښتو سره مينه د هغې په خټه کښې اغږلې شوې ده نو که پښتو نظم دے که نثر که تحقيق دے او که تنقيد په هر مېدان کښې ئې د خپل سوچ و فکر اسونه زغلولي دي ۔ او چې کوم ارخ ته ئې د قلم مخه شوې ده نو هلته ئې د کاميابۍ او کامرانۍ جهنډې نېغې اودرولې دي ۔ په پښتنه معاشره کښې د يوې ښځې دپاره ځان له يو ځانګړے مقام جوړول که ناممکن نۀ دي خو ولې ډېر ګران ضرور دي ۔ او سلمٰی شاهين ته الله پاک دا مقام ورکړے دے ۔ خداے پاک دې مونږ ټولو پښتنو ښځو ته ددې په شان همت ، حوصله او قابليت راکړي چې د نن دور د حالاتو د دنيا مقابله په نره اوکړو او په اوچتو سترګو خپلې ذمه وارۍ ترسره کړو ۔

## ماخذونه


۱:	همېش خليل ، پښتانۀ ليکوال ، دوېم ټوک ، مخ ۲۹۶

۲:	پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، مخ ۳۷۳

۳:	روهي سندرې ، اول جلد ، مخ ۶۰

۴:	انتخاب شاهين ، مخ ۸

۵:	هارون الرشيد ، د جديد دور پښتنې شاعرانې ، مخونه ۲۰ ، ۲۱

۶:	نوے سحر ، مخ ۸

۷:	پاکستانی خواتين اور پشتو ادب ، ص 11

۸:	د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر ، ۸۸ ـ ۱۹۸۹ء

۹:	زۀ هم هغسې وره وې ، مخ ۱۰۲

۱۰:	سلمیٰ شاهين ، زۀ هم هغسې وره وې ، ۱۹۹۶ء ، مخ ۱۱

۱۱:	زۀ هم هغسې وره وې ، مخ ۸

۱۲:	سلمیٰ شاهين ، راوبل ، ۲۰۰۳ء ، مخ ۲۲

۱۳:	پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، مخ ۳۳۸۳